مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲٦۴** (از ۳ الی ۱۰ سنبله ۱۳۹۷ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

### زلمی خلیلزاد او په افغانستان کې نوی احتمالي ماموریت

خلیلزاد؛ له افغانستانه تر سپینې ماڼۍ........ ۴

نوی ماموریت ........ ۵

راتلونکې سناریو........ ٦

### حملهٔ طالبان بر غزنی و آیندهٔ صلح در افغانستان

افزایش حملات تهاجمی طالبان ........ ۹

حمله بر مرکز فرهنگی تمدن اسلام ........ ۹

پیامدهای حملهٔ طالبان بر شهر غزنی ........ ۱۱

## مقدمه

په افغانستان کې د امریکا روانه جګړه د دغه هېواد تر ټولو اوږده بهرنۍ جګړه بلل کېږي. د ۱۷ کلونو په تېرېدو سره، امریکا ته په افغان جګړه کې تر ټولو غټه لاسته راوړنه داده چې جګړه روانه ساتل شوې او هره ورځ لسګونه افغانان په کې وژل کېږي.

سپینې ماڼۍ ته د ډونلډ ټرامپ له راتګ سره، نوموړي له نن څخه پوره یو کال وړاندې د افغانستان او سوېلي آسیا لپاره خپله نوې تګلاره اعلان کړه؛ خو د یو کال په تېرېدو سره، داسې ښکاري چې په افغانستان کې د امریکا روانه جګړه له یو ډول ابهام سره مخ ده. څکه نه یوازې دا چې امریکا د خپلې نوې  تګلارې په واسطه افغان جګړه ونه ګټله، بلکې د افغانستان امنیتي او سیاسي وضعیت لا پسې خراب شو او د سیمې د ځینو هېوادونو لکه: روسیې، ایران او چین لاسونه هم د افغانستان قضیې ته را وغځېدل.

له همدې امله په دې وروستیو کې داسې راپورونه خپاره شول چې امریکا غواړي زلمی خلیلزاد افغانستان ته د خپل ځانګړي استازي په توګه ولیږي. خلیلزاد د افغانستان په تړاو د امریکا له مهمو سیاسي چارواکو څخه دی. نوموړي له ۲۰۰۱ م کال وروسته په افغانستان کې د نوي نظام رامنځته کولو او ټینګښت کې د یوه امریکایي سیاستوال په توګه مهم رول درلود او د امریکا لپاره یې په افغانستان او عراق کې مهم ماموریتونه ترسره کړي دي.

په اوسنیو شرایطو کې افغانستان ته د زلمي خلیلزاد احتمالي راتګ او پر روان سیاسي وضعیت او ټاکنو یې ممکنې اغېزې، هغه څه دي چې د ستراتېژیکو او سیمهییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل په لومړۍ برخه کې بحث پرې شوی دی.

د اوونۍ تحلیل دویمه برخه مو د غزني ولایت پر مرکز د طالبانو ډلهییز برید ته ځانګړې کړې ده. په وروستیو کلونو کې طالبانو د خپلې جګړې تګلاره بدله کړې او ډېر کله په لویو ښارونو ډلهییز بریدونه کوي. په تېرو څو کلونو کې له کندوز او فراه را وروسته غزني هغه ښار دی چې د طالبانو له سختو ډلهییزو بریدونو سره مخ کېږي. طالبانو د غزني ښار اکثریت سیمې له حکومتي ځواکونو څخه ونیولې او تر پنځمې ورځې یې په خپل اختیار کې ساتلې وې. په دغې جګړه کې د ملکي وګړو په ګډون، له دواړو لورو څخه سلګونه تنو ته مرګ ژوبله واوښته او ترڅنګ عامو خلکو او سوداګرو ته میلیونه ډالر زیانونه هم واوښتل.

# زلمی خلیلزاد او په افغانستان کې نوی احتمالي ماموریت




زلمی خلیلزاد د افغانستان او امریکا په اړیکو کې له تېرو شاوخوا څلورو لسیزو یوه مهمه څېره ده. تېره اوونۍ د رویټرز خبري آژانس په یوه رپوټ کې د دوو امریکایي چارواکو له قوله ویل شوي وو چې ښایي د امریکا حکومت به زلمی خلیلزاد د افغانستان لپاره د خپل هېواد ځانګړی استازی وګوماري.

د افغانستان لپاره د امریکا د ځانګړي استازي په توګه د زلمي خلیلزاد د ټاکلو اوازې داسې مهال خپرېږي چې د غزني له جګړې را وروسته د کابل ـ اسلام آباد اړیکې د باور جوړونې له ډېرو هڅو سره سره، یو ځل بیا د بې‌باورۍ او ترینګلتیا په پوله ولاړې دي، د سولې خبرې که څه هم تر بل هر وخت ډېرې شوې دي، خو راتلونکی یې مبهم دی او په افغانستان کې روان امنیتي وضعیت ته په کتلو سره په دغه هېواد کې د امریکا د جګړې د تګلارې په اړه هم له خلکو سره مختلفې پوښتنې را پیدا شوې دي.

دا چې زلمی خلیلزاد له افغانستانه تر سپېنې ماڼۍ ځنګه ورسېده، کوم لاملونه دي چې ښايي په اوس مهال کې د ډونلډ ټرامپ له لوري خلیلزاد د امریکا د ځانګړي استازي په توګه وګومارل شي او افغانستان ته د زلمي خلیلزاد راتګ به د دغه هېواد پر روان وضعیت څه اغېزې ولري؟ هغه پوښتنې دي چې دلته مو بحث پرې کړی دی.

## خلیلزاد؛ له افغانستانه تر سپینې ماڼۍ:

افغاني الاصله امریکایی، زلمی خلیلزاد د افغانستان په بلخ ولایت کې زېږېدلی او پلار يې د لغمان ولایت له پښتنو څخه دی. خلیلزاد په ځوانۍ کې امریکا ته کډوال شوی او وروسته يې د همدې هېواد تابعیت تر لاسه کړی دی. نوموړي د لبنان په امریکایي پوهنتون بیروت کې د لیسانس او ماسټرۍ تر کچې او همدارنګه په امریکا کې د شیکاګو په پوهنتون کې د دوکتورا تر کچې زده کړې کړې دي.

خلیلزاد له تېرو شاوخوا څلورو لسیزو په امریکا کې له مختلفو حکومتونو سره په بېلابېلو څوکیو دندې ترسره کړې دي او په دغه هېواد کې د جمهوري غوښتونکو د بهرني سیاست د داخلي کړۍ یوه مهره ګڼل کېږي. دغه افغاني الاصله امریکایي چارواکي په امریکا کې د ۲۰۰۱م کال د سپټمبر ۱۱مې له بریدونو وروسته پر افغانستان د امریکا د یرغل په تړاو مهم رول درلود او د امریکا د پخواني ولسمشر جورج ډبلیو بوش سره يې پر افغانستان د یرغل په پلان کې پوره همکاري درلوده، چې بالآخره په پایله کې يې امریکا د القاعدې د ځپلو او طالبانو د رژیم د ړنګولو په پلمه، پر افغانستان برید وکړ او د روانې ۱۷ کلنې خونړۍ جګړې بنسټ يې کېښود.

زلمي خلیلزاد له ۲۰۰۱م کال وروسته په افغانستان کې د نوي نظام په رامنځته کولو کې مهم رول درلود، ځکه نوموړی د افغانستان په تړاو د امریکا د سیاستونو مهمه څېره ده. خلیلزاد له ۲۰۰۳ تر ۲۰۰۵م کال پورې د افغانستان لپاره د امریکا د سفیر په توګه دنده ترسره کړې ده. دغه مهال نوموړي د افغانستان اساسي قانون په مسوده کې مرسته وکړه او د حامد کرزي په مشرۍ د حکومت د ټینګښت په برخه کې يې هم د پام وړ رول درلود.

زلمي خلیلزاد له ۲۰۰۵ څخه تر ۲۰۰۷ م کال پورې په عراق او له ۲۰۰۷ څخه تر ۲۰۰۹م کال پورې په ملګرو ملتونو سازمان کې د امریکا د سفیر په توګه دنده ترسره کړې ده.

## نوی ماموریت:

په افغانستان کې د امریکا د ځانګړي استازي په توګه د زلمي خلیلزاد د ګومارنې اوازې داسې مهال خپرېږي، چې خپله امریکایي پوځي قومندانان په افغانستان کې د امریکا په روانه جګړه کې بن‌بست مني او په ټوله کې د امریکا حکومت هم دا درک کړي چې د پوځي فشارونو له لارې افغان جګړه نه شي ګټلی؛ ځکه یې په دې وروستیو کې له طالبانو سره د مخامخ خبرو اترو لار غوره کړې ده.

د امریکا افغان جګړه په یوه ګرم حالت کې له بوش او اوباما څخه ډونلډ ټرامپ ته په میراث پاتې شوه. ټرامپ له ولسمشر کېدو وړاندې په افغانستان کې د امریکا پر تګلاره ډېرې نیوکې کولې؛ خو نوموړي سپینې ماڼۍ ته تر راتګ وروسته، د همدې جګړې پر دوام ټینګار وکړ.

ډونلډ ټرامپ له نن څخه پوره یو کال وړاندې، د ۲۰۱۷م کال د اګسټ په ۲۲مه د افغانستان او سوېلي اسیا په اړه خپله تګلاره اعلان کړه. د دغې تګلارې له مخې د جګړې پر دوام ټینګار وشو او ټرامپ هڅه وکړه چې د سرتېرو د زیاتوالي له لارې افغان جګړه وګټي؛ خو د یو کال په تېرېدو سره په اوس مهال کې د افغانستان امنیتي وضعیت د تېر په پرتله خراب دی او د سیګار د وروستي راپور پر بنسټ، په افغانستان کې د طالبانو ترکنټرول لاندې خاوره هم زیاته شوې ده.

په بل اړخ کې د ټرامپ د تګلارې له کبله نه یوازې دا چې د هېواد دننه جګړې ضد روحیه نوره هم پیاوړې شوه، بلکې په سیمه‌ییزه کچه هم د یو شمېر هېوادونو لکه: چین، روسیې، ایران، پاکستان او منځنۍ اسیا هېوادونو اندېښنې را وپارېدې او ځینو یې له طالبانو سره ډیپلوماټیکې اړیکې زیاتې کړې.

همدې وضعیت ته په کتلو سره، په اوس مهال کې امریکا هڅه کوي چې په افغانستان خپله جګړه له روان بن‌بست څخه وباسي. دا چې زلمی خلیلزاد له یوې خوا یو افغاني الاصله امریکایي سیاست‌مدار دی او نوموړی د افغاني کلتور، ټولنیز ژوند، ژبو او سیاست په باب پوره معلومات لري او په بل اړخ کې د افغانستان په تړاو له څلورو امریکایي ادارو سره د کار کولو او سلا مشورو په برخه کې د پام وړ تجربه لري، داسې انګېرل کېږي چې ښایي همدې ته په کتلو سره امریکا د افغانستان لپاره د خپل ځانګړي استازي په توګه د زلمي خلیلزاد ګومارلو ته زړه ښه کړی وي.

## راتلونکې سناریو:

د راپورونو له مخې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو په پام کې لري چې زلمی خلیلزاد د افغانستان لپاره د امریکا ځانګړي استازي په توګه و ګوماري. دا چې په روانو حالاتو کې د خلیلزاد ټاکنه څه پیغام او کومې اغېزې لرلی شي، په اړه یې لاندې څو ټکي د یادولو وړ دي:

**افغان ـ پاک اړیکې:** زلمی خلیلزاد هغه امریکایي سیاستمدار دی چې تل یې د پاکستان پر سیاستونو نیوکې کړې دي. خلیلزاد په دې باور دی چې د افغان دولت پر وړاندې تولې جنګېدونکې ډلې، له ځان سره د پاکستان ملاتړ لري. نوموړي دوه کاله وړاندې له بي بي سي سره په مرکه کې ویلي وو «پاکستان د ترهګرو پلوی کوي او امریکا باید پر دغه هېواد خپلې پوځي او مالي مرستې بندې کړي، تر څو اړ شي چې د ترهګرو له ملاتړه لاس واخلي.»

د زلمي خلیلزاد په راتګ سره ښایي نوموړی پر پاکستان د امریکا او لویدیځو هېوادونو د فشارونو د زیاتولو په موخه هڅه وکړي چې له امله به یې پاکستان په خپله خاوره کې د افغان دولت پر مخالفو ډلو فشار راوړلو ته اړ شي او پر خپل ځان به د نړیوالو فشارونو د را کمولو په موخه له کابل سره د اړیکو د ښه کولو هڅه وکړي.

**سیاسي ایتلافونه:** زلمی خلیلزاد هغه څوک دی چې له ۲۰۰۱م کال وروسته یې په افغانستان کې د مرکزي حکومت د ټینګښت په برخه کې مهم رول لاره. نوموړي هغه مهال په هېواد کې د ځینو هغو ځواکمنو افرادو او جریانونو په کمزوري کولو کې رول درلود، چې په خپلو سیمو کې د قدرت جزیرې جوړې کړې وې او په مرکزي حکومت کې یې د زیات قدرت ترلاسه کولو هیله درلوده.

په اوس مهال کې یو ځل بیا افغانستان له سیاسي بې ثباتۍ سره مخ دی، له تېرو دوو کلونو را په دې خوا په مختلفو نومونو د حکومت ضد ایتلافونه جوړېږي. دغو ایتلافونو په دې وروستیو کې حکومت ته لوی سرخوږی جوړ کړی او د ټاکنو بهیر یې له خنډ او ځنډ سره مخ کړی دی. دوی هڅه کوي چې د مرکزي حکومت پر ځای د لویې جرګې په رابللو سره مؤقتي نظام رامنځته کړي. په دغه وضعیت کې د زلمي خلیلزاد له راتګ سره، ښایي د حکومت ضد ایتلافونه کم رنګه او مرکزي حکومت بېرته ساه واخلي.

**ولسمشریزې ټاکنې:** د بن له کنفرانسه را نیولې بیا تر نن ورځې، امریکا هر ځل په افغانستان کې د ټاکنو په پروسه کې پام‌وړ رول لرلی دی. د ملي یووالي حکومت د مودې پای ته رسېدو ته له یوه کال څخه کم وخت پاتې دی او ټاکل شوې چې راتلونکې ولسمشریزې ټاکنې د ۲۰۱۹م کال د اپریل په ۲۰ ترسره شي. په

افغانستان کې د امریکا د ځانګړي استازي په توګه د زلمي خلیلزاد په ګومارلو سره به امریکا هڅه وکړي چې یو ځل بیا د ولسمشریزو ټاکنو پر پایلو خپلې اغېزې ولري؛ خو پوښتنه داده چې زلمی خلیلزاد به په دغو ټاکنو کې د چا د ملاتړ هڅه وکړي.

که تېرو څو کلونو ته ځیر شو، د ملي یووالي حکومت په دوره کې د سیاسي اختلافونو پر مهال، زلمي خلیلزاد تل د مرکزي حکومت ملاتړ کړی. د ولسمشر غني او د بلخ د پخواني والي عطا محمد نور ترمنځ د اختلاف پر مهال، زلمي خلیلزاد عطا محمد نور ته خبرداری ورکړ چې «افغان حکومت او نړیوال شریکان یې د ده پر وړاندې صبر او حوصله نه لري او نه هم د یادې ستونزې دوام غواړي.» نوموړي په کندهار کې د دې ولایت د امنیه قوماندان، جنرال عبدالرازق د مرکزي حکومت ضد څرګندونو په باب هم ویلي وو «که په کندهار کې د ملوک الطوایفۍ رامنځته کولو هڅه وشي، نو نړۍ به بې طرفه او غلې پاتې نه شي.». له بلې خوا د ملي یووالي حکومت په راتګ سره په لومړیو څو ساعتونو کې له امریکا سره د امنیتي تړون لاسلیک کېدل، دغه راز د ولسمشر غني له لوري د افغانستان په اړه د ټرامپ د پوځي تګلارې ملاتړ او له ټولو ستونزو او ناکامیو سره سره یې اغېزناکه بلل، ټول هغه څه دي چې د ولسمشر غني او د امریکا د حکومت ترمنځ نږدېوالی ښیي.

د پورتنیو لاملونو په نظر کې نیولو سره داسې تحلیلونه شته دي، چې په اوسني وخت کې د خلیلزاد ماموریت به په راروانو ټاکنو اغېزې ولري. اوسمهال سیاسي ګوندونو او پخوانیو زورواکانو راروانې پارلماني ټاکنې تر یوه بریده ننګولې دي. په داسې حال کې چې د دغو ټاکنو ناکامېدل یا ځنډېدل به له یوې خوا په افغانستان کې د مشروعیت بحران لا ډېر ژور کړي او له بلې خوا به د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو پر برخلیک هم اغېز وښندي؛ له همدې کبله د دغو ټاکنو نه کېدل یا ځنډېدل، نه افغان حکومت او نه هم نړیوالې ټولنې ته د منلو وړ دي. د خلیلزاد په راتګ سره به هڅه وشي، چې د راتلونکو پارلماني ټاکنو پر وړاندې شته خنډونه له منځه لاړ شي. د دې ترڅنګ، داسې تحلیلونه هم شته دي چې نوموړی به په راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو کې هم د ولسمشر غني د اوسنیو سیاسي مخالفینو او پخوانیو زورواکانو ملاتړ ونه کړي. پای

# حملۀ طالبان بر غزنی و آیندۀ صلح در افغانستان



طالبان در تاریخ ۱۰ آگست از چهار سو بر شهر غزنی حملات گسترده‌ای آغاز کردند. در سه روز نخست توانستند که بدون مقام ولایت و فرماندهی پولیس، تقریباً تمام ساحات شهر غزنی و اداره‌های دولتی را در اختیار خود در آوردند. با آنکه نیروهای امنیتی افغان در روز پنجم این جنگ، توانستند که دوباره ادارۀ شهر غزنی را به دست خود گیرند و طالبان را از شهر بیرون کنند؛ اما در این پنج روز پایتخت تمدن اسلامی به خاک و خون کشیده شد.

با نزدیک شدن عید سعید اضحی امیدها بر این بود که طالبان یک بار دیگر به پیشنهاد آتش بس حکومت وحدت ملی، لبیک گویند تا مردم بتوانند چند روز زندگی خویش را دور از جنگ و کشتار سپری کنند؛ اما طالبان در جواب این پیشنهاد، بر شهر غزنی حملات تهاجمی مرگباری انجام دادند.

افزایش حملات تهاجمی طالبان در مناطق مختلف کشور، چگونگی حمله بر شهر غزنی و پیامدهای حملۀ طالبان بر شهر غزنی، موضوعاتی اند که در این تحلیل روی آن بحث می‌کنیم.

## افزایش حملات تهاجمی طالبان:

پس از سقوط ولایت کندز بدست طالبان، این گروه در استراتیژی جنگی خود، بر حملات تهاجی تمرکز بیشتر نمود، دامنۀ جنگ خود را به اطراف شهرهای بزرگ کشور گسترش داد و بیشتر تلاش نمودند که از یک سو مناطق دست داشتۀ خویش را حفظ کنند و از سوی دیگر در تلاش گرفتن دیگر ساحات افغانستان باشند.

در ماه‌های اخیر حملات تهاجمی گروه طالبان بر مراکز ولایات و قرارگاه‌های امنیتی نیروهای افغان، به شدت افزایش یافته است. ولایت غزنی با داشتن ۱۸ ولسوالی در ۱۴۰ کیلومتری پایتخت افغانستان از چندسال به این سو شاهد ناامنی‌ها بود؛ اما در چند ماه گذشته در چندین ولسوالی غزنی جنگ‌های شدید صورت گرفت و ناامنی در این ولایت بیشتر از پیش افزایش یافت.

هم‌زمان با این، گروه طالبان در ولسوالی غورماچ ولایت فاریاب بر پایگاه نظامی نیروهای افغان موسوم به «کمپ چینایی‌ها» حمله تهاجمی نمودند و بعد از دو روز جنگ، پایگاه مذکور را تسخیر کردند. بر اساس گزارش رسانه ها در این حمله ۱۰ سرباز امنیتی افغان کشته و ۱۵ تن دیگر زخمی شدند.

در همین حال ولایت بغلان نیز شاهد حملات طالبان بر قرارگاه‌های نیروهای افغان بود. طالبان همزمان با جنگ در غزنی، بر یک قرارگاه نیروهای امنیتی افغان در منطقه بغلان مرکزی ولایت بغلان حمله نمودند که در نتیجۀ آن ۴۰ تن از نیروهای امنیتی افغان کشته شدند. از سوی هم، چند روز قبل از حملۀ طالبان بر شهر غزنی، در نتیجۀ یک حمله این گروه در ولسوالی چهاربولک ولایت بلخ، هشت نظامی افغان کشته و سه تن دیگر آن‌ها زخمی شدند.

## حمله بر مرکز فرهنگی تمدن اسلام:

طی چند ماه گذشته، بخصوص پس از آغاز پروسۀ ثبت نام انتخابات پارلمانی و شوراهای ولسوالی، شخصیت‌های سیاسی و بزرگان ولایت غزنی مصروف معاملات و جنجال‌های سیاسی و انتخاباتی بودند؛ اما طالبان در طی همین مدت بر ولسوالی‌های خواجه عمری، زنه خان، رشیدان، جغتو و برخی مناطق دیگر ولایت غزنی چندین بار حملات تهاجمی نمودند، ولسوالی‌های مذکور را سقوط دادند و برای خویش زمینه حمله بر شهر غزنی را مساعد ساختند.

صدها جنگجوی طالب از ولایت‌های ارزگان، میدان وردگ، زابل و پکتیکا مشترکاً، به تاریخ ۱۰ آگست ۲۰۱۸م از چندین سمت بر شهر غزنی حمله نمودند و وارد این شهر شدند. منابعی به مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی گفته است که اکثریت پوسته‌های کمربند امنیتی شهر غزنی، بدون مقاومت با جنگجویان طالب عقب نشینی کردند و طالبان با استفاده از این موقع در کمترین وقت توانستند تا وارد شهر شوند. از سویی هم، همزمان با شروع جنگ در مرکز شهر غزنی، برخی حوزه‌های امنیتی نیز بدون مقاومت در اختیار طالبان قرار گرفته شده است که این قضیه تردیدهایی را در رابطه به غفلت و بی‌کفایتی مقامات حکومتی، چگونگی جنگ غزنی و احتمال وجود معامله در رابطه به جنگ غزنی، به میان آورده است.

طالبان همزمان با جنگ در شهر غزنی، در مسیر شاه راه‌های متصل به این ولایت کمین گرفته بودند و به نیروهای امنیتی تازه نفس اجازهٔ داخل شدن به شهر غزنی را نمی‌دادند. به همین سبب طالبان تا چهار روز شهر غزنی را در کنترول خود داشتند و بدون تعمیر مقام ولایت و فرماندهی پولیس، تقریباً تمام اداره‌های ولایت غزنی را گرفتند.

به گفتهٔ اداره کمک‌های بشری ملل متحد (اوچا) به سبب جنگ در این شهر، فاجعه انسانی به وقوع پیوست. چون در جریان چند روز جنگ، تمام شبکه‌های مخابراتی در این شهر قطع بودند، شاهراه نمبر یک کابل ـ قندهار به روی رفت و آمد مسدود بود، مردم در این شهر با کمبود آب و مواد خوراکی روبرو بودند.

با آنکه از تلفات جانی در این جنگ آمار دقیقی ارائه نشده است؛ اما به گفته مسؤولان ارشد امنیتی حکومت، حدود ۱۰۰ تن از نیروهای امنیتی افغان و ۳۰ غیز نظامی در این جنگ کشته شدند و  نیز ۱۹۴ جنگجوی طالب به شمول فرمانده‌هان کلیدی این گروه کشته و ۱۴۷ تن دیگر آنان زخمی شدند. از سویی هم، بر بنیاد گزارش های برخی رسانه‌ها در جنگ غزنی ۳۴۰ تن از نیروهای امنیتی، ۱۹۷ تن از افراد ملکی و حدود ۷۲۰ تن از جنگجویان طالب کشته شده اند. با این همه اداره  کمک‌های بشری سازمان ملل متحد می‌گوید که در جنگ غزنی نزدیک به ۱۵۰ فرد ملکی کشته و زخمی شدند.

در جریان حملهٔ طالبان بر شهر غزنی و جنگ چند روزه در این شهر، برخی از ساختمان‌های دولتی، خانه‌های مردم، پایه‌های شبکه‌های مخابراتی، چند مارکیت تجارتی و ده‌ها مغازه و دکان، به سبب حملات هوایی نیروهای افغان و خارجی و حملات جنگجویان طالب، ویران و  در آتش جنگ سوختند. صدها فامیل از خانه‌های خویش آواره شدند و مردم چند روز جنگ را در آخرین حد ترس و نیاز به کمک‌های بشری سٍپری نمودند.

## پیامدهای حملهٔ طالبان بر شهر غزنی:

طالبان در حالی بر شهر غزنی حمله می‌کنند که در این اواخر تلاش‌ها به هدف گفتگوهای صلح با این گروه بیشتر شده است. نماینده‌های طالبان چندی قبل در قطر با مقام‌های امریکایی در رابطه به ختم جنگ و تحکیم صلح در افغانستان گفتگوهای مستقیم نمودند؛ اما شدت حملات تهاجمی گروه طالبان، بخصوص حمله این گروه بر شهر غزنی، ناامیدی‌ها و بی‌باوری هایی در رابطه به پروسهٔ صلح به بار آورده است.

در کل می‌توان پیامدهای حملهٔ طالبان بر شهر غزنی را در سه مورد ذیل ذکر کرد:

**گفتگوهای صلح:** هر چند تحلیل‌هایی وجود دارد که طالبان به هدف بدست آوردن امتیازات بیشتر در گفتگوهای صلح، بر شهر غزنی حمله کردند و به جانب مخالف خویش نشان دادند که طالبان یک گروه قدرتمند است؛ اما حملهٔ طالبان بر شهر غزنی در اوج گفتگوهای صلح با این گروه و این که در این حمله به افراد ملکی تلفات جانی و مالی گسترده‌ای رسید و نیز بعد از جنگ غزنی، عدم اعلام آتش بس از سوی طالبان در عید قربان، امیدواری‌هایی که بعد از آتش بس مؤقت در عید سعید فطر مردم را به دورنمای صلح در افغانستان امیدوار ساخته بود، از بین برد.

**انتخابات پارلمانی؛** پروسهٔ انتخابات پارلمانی در ولایت غزنی از اوایل آغاز کار عملی این پروسه به سبب حوزوی و غیر حوزوی شدن انتخابات در این ولایت، با اعتراض‌های مردم روبرو بود. این اعتراض‌ها باعث بسته شدن دفتر کمیسیون انتخابات در این ولایت و عدم پیشرفت پروسهٔ ثبت‌نام رأی‌دهندگان شد. بر همین اساس کمیسیون مستقل انتخابات اعلام کرد که نظر به ولایات دیگر، انتخابات پارلمانی در ولایت غزنی به تأخیر برگزار خواهد شد؛ اما پس از حملهٔ طالبان بر شهر غزنی، مشکلات در این زمینه بیشتر از پیش شدند و کمیسیون مستقل انتخابات اعلام کرد که برگزاری انتخابات پارلمانی در این ولایت غیر ممکن است.

**خسارات مالی؛** در پی حملهٔ طالبان بر شهر غزنی و جنگ چند روزه در این شهر، علاوه از تلفات جانی، میلیون‌ها دالر خسارات مالی نیز به مردم وارد شد. به گفته مقامات اتاق تجارت و صنایع افغانستان، در جنگ غزنی چندین مارکیت بزرگ تجارتی و دها دکان در آتش جنگ سوخته اند و بیشتر از ۵۰ میلیون دالر، به سکتور خصوصی در این ولایت خساره وارد شده است.

پایان

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**وب سایت:** www.csrskabul.com – www.csrskabul.net

**شمارهٔ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (+93) 784089590

**محقق و مسؤول تحلیل هفته:** ضیاءالاسلام شیرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com

**محقق و مسؤول نشر تحلیل هفته:** احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com